AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین
مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۸/۱۰

# د خوشحال خان ختک آثار

## دستار نامه، لومړۍ برخه

## خوشحال پوهنه

## ۲۶

**چې دستــار تـړي هـزار دي**
**د دسـتــار سـړي په شمار دي**




مخکي له دې چې پر دستارنامه باندې د بحث سیمي ته ور ننوزم، د څو خبرو یادول اړین ګڼم:
ـ د خوشحال د دستارنامي په باب ما د شپیتمي لسیزې د پیل په کلونو کي یو درسي کتاب (د خوشحال د دستارنامي منتخبات) ترتیب کړی و چې د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د پښتو څانګي په دریم ټولګي کي د «منثور متون» د مضمون په ترڅ کي تدرسیده. په هغه درسي کتاب کي ما د خوشحال د دستار نامي ځیني برخي په منتخب ډول را


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ

اخیستي وې، مقدمه، شپږ هنرونه، شپږ خصلتونه مې را انتخاب کړي وو او یوه مې په پای لغتنامه ورته برابره کړې وه. اوس یې په واک کې نه لرم.
ــ د همدې شپیتمې لسیزې د پیل په کلونو کې مې یوه مقاله لیکلې وه چې سر لیک یې «د خوشحال د دستار سرې» و. اوس مې سم په یاد نه دي چې ما چیرې خپره کړې وه، خو د ذهن چیپ مې وایې چې په زیري جریده کې خپره شوې وه.
ــ بله د یادولو وړ خبره د یوې آزموینې یوه ډیره کامیابه او خوشالونکې خاطره ده. دا هغه وخت و چې استاد صدیق روهي په ۱۳۶۴ کې و او که ۱۳۶۵ کې و، د ماسترۍ په پروګرام کې موږ ته تدریس کاوه او زه یې مخامخ شاګردی ته ناست وم. موږ ته یې د دستار نامې په باب لکچرونه را کول. ما د آزموینې په پارچه کې د خوشحال د دستار نامې په باب د نورو خبرو تر څنګ دا هم ور ته لیکلي و چې:
**«د خوشحال دستار نامه د هغه وخت د پښتنو د اساسي قانون حیثیت درلود.»**

کله چې استاد روهي د آزموینې پارچې لیدلې، د هر چا د پارچې له لیدلو سره سم یې هماغه شخص ورغوښته او د هغه شخص په مخ کې به یې نومرې ورکولې. زه یې چې ور وغوښتم، په ورین تندي او کامیاب انداز یې را ته و ویل:
«بهاند صاحب مبارک دې شه! زه سل نومرې در ته لیکم، په پارچه کې دې د خوشحال د دستار نامې په باب تولې خبرې تکراري دي، خو دا یوه خبره دې زما له پاره دومره نوې ده چې تر اوسه مې له هیڅ خوشحال پیژندونکي څخه نه اوریدلې او نه مې هم چیرې لوستې ده»
د خوشحال د منظومو آثارو په باب ډیرو څیړونکو خبرې کړې دي، خو د منثورو آثارو په باب یې لږې خبرې شوې دي. که د خوشحال منثور آثار په دقت ولوستل شي، لیدل کیږي چې د خوشحال منثور لیکلي آثار د موضوع له پلوه نسبت منظومو ته ډیر ارزښتمن ښکاري. استاد زلمی هیوادمل داسې وايي:
«هسې چې د خان منظوم آثار له خپلو ځانګړیو فکري او هنري ارزښتونو برخودار دي، دغسې یې په نثر کې موږ ته داسې څه را پریښي دي، چې موضوعي ارزښتمني یې تر منظومو هغو څو چنده زیاته ده.» (هیواد مل سر محقق زلمی، ننګیالی د زماني، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ــ جرمني، ۱۳۸۰ــ ۲۰۰۱م، ۱۹۵ ام مخ)
د خوشحال دستار نامه په خپل وخت کې هم د شکل له مخې او هم د محتوی له پلوه یو شهکار اثر ګڼلای شو. د دستار نامې محتوایات په لنډه توګه لوستونکو ته داسې ور پیژندلای شو:

**ــ یوه مقدمه،**

**ــ شل هنرونه،**

**ــ شل خصلتونه،**

**ــ یوه خاتمه.**

د دستار نامې مقدمه دوې برخې لري. په خپله خوشحال وايي:

«مقدمه د کتاب مقرره په دوه فصله، د اول فصل ذکر د دستار او د دستار د قابلیت، دویم فصل مذکور د ولایت او اسباب سیاست او ریاست...» (ختک خوشحال، دستارنامه، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵ کال، ۲ ام مخ)
خوشحال خان د دستار نامې د مقدمې په لومړۍ برخه کې په واضح ډول ویلي دي چې دستار پر سر کول د مود و فیشن له پاره نه دي، بلکې دستار باید دې هغه څوک پر سر کړي چې «قابلیت» او «لیاقت» یې ولري. دا د ده خپل جملات دي:

**«خبر شه چې دستار په سر کول د ښیوې او د نمای له پاره نه دي، دستار د مرد شرم او غزت دی، تمامي شرم د مرد په دستار کې دی... هر کله چې بادشاه یا امیر په ابتدا په تخت یا په مسند د لویۍ کښیني، د بادشاه پر سر تاج، د امیر پر سر دستار کیښود شي، هر چې قابل او لایق دی، دا کار په هغه پسنده په نا قابل پسنده نه شي. هر چې په اتفاق دستار د هغه پر سر کښیږدي، هغه اطاعت اختیار کا، د دستار شرم په دواړه لوریه لازم شي. اول په هغو چې دستار د هغه شخص په سر کښیږدي، بیا په هغو چې دستار د لویۍ په سر کا، د بل په ځای کښیني. که قابل وي، ثنا تعریف یې شي، که نا قابل وي پوري ریشخند کیږي، پس د دستار کار سهل او آسان نه دی.»**

(ختک خوشحال، دستارنامه، پښتو ټولنه، ۱۳۴۵ کال، ۲ ام مخ)

خوشحال د خپلې مقدمې په ترڅ کې د دستارنامې د محتویاتو په باب توضیحات ور کوي چې کوم هنر یا خصلت لومړیتوب لري او څومره اړین دی.د شلو هنرونو فهرست یې دا دی:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

اول هنر د ځان د معرفت،
دویم هنر د علم،
دریم هنر د خط،
څلورم هنر د شعر،
پنځم هنر د تیر اندازی،
شپږم هنر د آب بازی ،
اوم هنر د اسپ تازی،
اتم هنر د ښکار،
نهم هنر د شجاعت،
لسم هنر د سخاوت،
یولسم هنر د ازدواج د معاشرت،
دولسم هنر د اولاد د تربیت،
دیارلسم هنر د تادیب خدم و حشم،
څوارلسم هنر د اسباب معیشت،
پنځه لسم هنر د زراعت د دهقانیت،
شپاړسم هنر د تجارت،
اولسم هنر د تحقیق د نسب،
اتلسم هنر د علم موسیقي،
نولسم هنر د نرد د شطرنج،
شلم هنر د تصویر د نقاش.

دغه راز خوشال شل خصلتونه داسي نومولي او په نښه کړي دي:
اول خصلت د مشورت،
دویم خصلت د عزیمت،
دریم خصلت د خاموشی،
څلورم خصلت د راستی،
پنځم خصلت د شرم و حیا،
شپږم خصلت د خلق نیکو و خلقت او خوشخویي،
اوم خصلت د مروت،
اتم خصلت د عفو او کرم،
نهم خصلت د تمیز د تاني،
لسم خصلت د عدل د انصاف،
یولسم خصلت د توکل،
دولسم خصلت د تربیت او شرم د خپل نوازش،
دیارلسم خصلت د خوف د رجا،
څوارلسم خصلت د ملک د انتظام
پنځه لسم خصلت د همت،
شپاړسم خصلت د حلم،
اولسم خصلت د غیرت،
اتلسم خصلت د حزم د احتیاط،
نولسم خصلت د ورع د طاعت د عبادت،
شلم خصلت د استغفار.

دا چي خوشحال ولي د هنرونو او خصلتونو له پاره د شل عدد کارولی نه زیات نه کم، ښایي د هر چا استدلال فرق وکړي، خو زما د خوشال پوهني لومړنی رسمي استاد پوهنوال دوکتور گل محمد نورزی چي په همدې برخه کي د لوړو زدکړو خاوند و، داسي استدلال کاوه چي: خوشحال خټکه د هنرونو او خصلتونو له پاره د شل عدد ټاکلی چي په پښتنو کي شل د پوره په مانا منل شوی او د پوره په مانا کارول کیږي. پښتانه وايي:«بې له ما نه به يي شل نه کړي» دا خبره دا مانا لري چي د یو سیاسي مشر او یا د قوم د مشر له پاره به د همدې شلو هنرونو او خصلتونو درلودل اړين وي خو بس نه دي.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ